# چا، چاته عیب بیانولے شئ ؟

پشتو




شیخ طریقت، امیر اہلسنت، بانئ دعوتِ اسلامي حضرت علامه مولانا ابو بلال

**مُحمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العالیة

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ ؕ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ؕ

دا مضمون ”غیبت کی تباہ کاریاں“ د صفحه 230 تا 243 نه اخستلے شوے دے

# چا، چا ته عيب بيانولے شئ ؟

دُعائے عطّار: یا رَبَّ المُصطفٰي! چي خوک هُم دا رِساله ”چا چا ته عیب بیانَولے شئ“ اولولي یا ئي واوري، هغه ته د خپلې ژبې صحیح استعمالولو توفیق ورنصیب کړې او په جنّت الفردوس کښې ئې د خپل خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ګاونډ نصیب کړې- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د درود شریف فضِیلت

حضرت شیخ ابوبکر شبلي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه یوه ورځ د بغدادِ مُعلّٰي د یو جیّد عالم حضرت ابوبکر بن مجاهد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خواه ته تشریف راوړو، هغوئي سَمدَستي اودریدلو او هغوئي ته ورغاړې وَتلو او سینے ته ئې راجوخت کړو او په تندی ئې ښکل کړو او ډیر په تعظیم سره ئې خپلې خواه ته کښینولو- حاضرینو عرض اوکړو: یاسیّدي! تاسو او د بغداد خلقو خو تر نن ورځې پورې دوئي ته لیونے وئیلو نو بیا نن د دوئي دومره تعظیم ولے؟ جواب ئې اوفرمائیلو: ما دا هسې اُونَکړل، اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه نن د شپې ما په خوب کښې دا ایمان افروزه منظر اولیدو چې حضرت ابوبکر شبلي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په بارګاه رسالت کښې حاضر شو نو د دواړو جهانو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اودریدلو او دوئي ئې سینے ته راجوخت کړلو او د دوئي تندے ئې ښکل کړو او خپل خواه ته ئې کښینولو- ما عرض اوکړو: یارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په شِبلي باندې د دومره شفقت کولو وجه څه ده؟ د الله پاک محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل چې دے دَ هر لمانځه نه پس دا آیت تلاوت کوي:

| | |
|---|---|
| لَقَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُوۡلٌ مِّنۡ اَنۡفُسِكُمۡ عَزِيۡزٌ عَلَيۡهِ مَا عَنِتُّمۡ حَرِيۡصٌ عَلَيۡكُمۡ بِالۡمُؤۡمِنِيۡنَ رَءُوۡفٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۱۲۸﴾ (پ11، التوبه: 128) | [مَفهُوم] ترجمۂ كنزُالايمان: بيشكه تاسو ته تشريف راوړو ستاسي نه هغه رسول چې په هغوئي باندې ستاسې په مشقت كښې پريوتل ګران دي ستاسو د خير ډير زيات غوښتونكے په مسلمانانو باندی كمال مهربانه [رحم كوونكے]. |

او د دې نه پس په ما درود شريف وائي- (القول البديع،ص 346)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! ✿✿✿ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د سنتو ډكه اجتماع كښې رحمتونو نازليږي

خوږو اسلامي ورونړو! ان شاءالله الكريم د سنّتو ډكې اجتماع كښې غوښتونكې دعاګانې ضرور رنګ راوړي، ځكه چې هلته د الله و رسول عَزَّوَجَلَّ و صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارک ذكر كيږي حضرت امام سفيان بن عيينه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: عِنۡدَ ذِكۡرِ الصّٰلِحِيۡنَ تَتَنَزَّلُ الرَّحۡمَةُ يعني د نيكانو خلقو د ذكر كولو په وخت كښې د الله پاک رحمت نازليږي- (حلية الاولياء، 335/7، رقم:10750) هر كله چې د نيكانو خلقو په ذكر باندې د رحمت نزول كيږي نو كوم ځائے كښې چې د الله پاک او د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذكرِ خير كيږي هلته به رحمتونه څنګه نه نازليږي او كوم ځائے كښې چې بےشميره رحمتونه راوريږي هلته به دعاګانې ولې نه قبليږي- حضرت ابوهريره او حضرت ابوسعيد رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنۡهُمَا فرمائي چې مونږ دواړه د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاهِ اَقدَس كښې حاضر وو چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: كوم قوم چې د الله پاک د ذكر د پاره كښيني فرشتے د هغوئي نه راتاو شی او هغوئي په رحمت كښې پټ شي او په هغوئي باندې سكينه نازليږي او الله پاک د فرشتو په وړاندې د هغوئي ذكر كوي- (مسلم ،ص1448

حديث:2700) مراٰة جلد 3 صَفْحَه 30 کښې دي: د سکينے نه مراد يا خو خاص فرشتے دي يا د زړه نُور يا د زړه راحت او سکون دے-

## ذکر څه ته وائي؟

د ”الله هو او حق هو“ ضربونه لګول بےشکه ذکر دے خو تلاوتِ قرآن، حمد و ثناء، مناجات و دعاء، درود و سلام، نعت و منقبت، خطبه، درس، د سنتو ډک بيان وغيره هم په ”ذکر الله“ کښې شامل دي- يقيناً د دعوت اسلامي د سنتو ډک اجتماعات هم د ذکر حلقے دي-

سارے عالم کو ہے تیری ہی جُستجو جِنّ واِنس وملک کو تری آرزو
یاد میں تیری ہر ایک ہے سُو بَسُو بَن میں وَحشی لگاتے ہیں ضَرباتِ ھو

اللہ،اللہ،اللہ،اللہ،

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د ټول قوم د غيبت مسئله

د عاشقان رسول مدني تحريک، دعوت اسلامي د مکتبۃالمَدينه کتاب د (312 صَفحو) ”بهارِ شريعت“ حصّه 16 صَفحَه 173 کښې دي: د يو کلي يا د يو ښار بدي ئې بيان کړه، مثلاً داسې ئې اووئيل چې د هغه ځائے خلق داسې دي، دا غيبت نه دے ځکه چې د داسې کلام دا مقصد نه وي چې د هغه ځائے ټول خلق داسې دي بلکه بعضې خلق ترينه مراد وي او کوم بعضې ئې چې بيان کړل هغه معلوم نه دي، غيبت په هغه صورت کښې وي چې د مُعَيَّن او معلومو (کوم چې پيژندلے کيږي د هغه) خلقو بدي بيان کړے شي او که د هغه مقصود د هغه ځائے د ټولو خلقو بدي بيانول وي نو دا غيبت دے۔(درمختار،674/9)

## د ګوډ پيبنې کول

د يو ګوډ سړي په پيښو کولو کښې ګوډ ګوډ تلل هم دغه شان  د يو خاص مسلمان د يوې خامۀ پيښې کول غيبت دے بلکه دا د ژبې د غيبت نه زيات بد د ے - ځکه چې په پيښو کولو کښې پوره تصوير کُښي او پوره خبره پوهه کول موجود وي او په وئيلو کښې داسې نه وي-

## نوم اخستلو نه بغير غيبت کول

نوم اخستلو نه بغير غيبت کول ګناه نه ده، خو که نوم خو ئې  وانځستو خو چې چا ته ئې وائي هغه پوهيږي چې د چا په باره کښې خبره کوي نو بيا دا غيبت دے-

## مخامخ ئې ورته هم وئيلے شم!

د غيبت کوونکي دا ګنړل يا وئيل چې زه د هغه په مخامخ هم دا وئيلے شم، دے د غيبت د ګناه نه نۀ شي بچ کولے ځکه چې د غيبت اصل وجه مسلمان ته تکليف رَسوَل دي او په مخامخ وئيلو د هغۀ زړه ته ډير تکليف رسي نو نوره هم لويه ګناه ده- د چا بدي چې بيان کړے شوه اوهغه په خندا شو د دې مطلب هيڅ کله هم دا نه دے چې هغۀ خپله بدي واوريدله او پرې خوشحاله  شو، فطرةً عام کس چې خپل تعريف واوري نو پرې خوشحاليږي خپل بد اوريدلو سره خوک هم نۀ خوشحاليږي لِهذا خپل بد اوريدلو سره خندل "د نه زړه خندا" وي چې بنده د خپلې شرمندګۀ پټولو په وجه داسې موقع باندې خاندي حالانکه دننه ئې زړۀ سوزي-

## په پټو لفظونو کښې غيبت

تَعرِيض يعني په بندو لفظونو کښې هم غيبت  کيدے شي مثلاً د چا د بدئ تذکره اوشوه نو اُوئې وئيل: الحمد لله زه "داسې" نه يم، دا غيبت دے ځکه چې دا هم د بدئ بيانولو يو انداز دے د دې صفا مطلب دا شو چې هغه "داسې" دے-

## که څه وایم نو غیبت به شي

د یو مسلمان په باره کښې خبره شروع شوه نو اُوئې وئیل:" پریږده یار! زه دے پیژنم، که څه وایم نو غیبت به شي-" داسې ویونکي غیبت اوکړو ځکه چې هغه په دې انداز کښې بدي بیان کړه!

داسې قسمه غیبت باندې مُشتملې خوارلس جُملے ❖ بس جي الله دِ معافي اوکړي، د هغه په باره کښې تا ته څه اووایم ❖ بس یاره څه اووایم د هغه د پاره دعا کیدے شي ❖ یار! هغه پوهه کول زمونږ د وس کار نه دے، کله چې ئې مازغهٔ اُلټه شي نو بیا د چا نه اوري ❖ نن صبا د هغه مازغه ګرم شوي دي ❖ وروره! زهٔ خو د هغه نه قلار شوم زما اوري کله ❖ کله چې ئې مطلب وي نو "آو جي آو جي" کوي او د مطلب نه پس چا ته ګوري هم نه ❖ ښه ښه په دروازه کښې فلانکے دے د دهٔ به څه مطلب وي ❖ د هغه نه مې د ځان خلاصوَلو ډیر کوشش اوکړو خو هغه راپورې بالکل "نښتے" وو ❖ ما خو د هغه نه د ځان خلاصولو ډیر کوشش اوکړو خو هغه هډو خپله پریږدي نه ❖ یار! هغه چا ته ګیا هُم نه اچوي ❖ اُف! هغه سپیره د کوم ځائے نه راغے! ❖ هغه خو نادان دوست اوختُو ❖ د هغه کار نه دے هغه خو "ساده سړے" دے (عموماً د "ساده سړي" وئیلو نه مراد بےوقوفه یا نادان یا کم عقل وي) ❖ ښنګه خوږ خوږ کیدو!

## د عیب پټولو د پاره د دروغو جائز کیدلو یو صورت

په غیبت کښې یو ډیر لوئ آفت دا هم دے چې کله د "یو کس" غیبت د بل په وړاندې اوشي نو بعضې وخت د "هغه کس" د بل په نظر کښې عِزّت کم شي او شریعت کښې دا بالکل ناخوښه دي چې یو مسلمان د بل مسلمان په نظر کښې ذلیله او خوار DEGRADE شي تر دې پورې چې د مسلمان د عزت بچ کولو په نیت بعضې صورتونو کښې د دروغو وئیلو هم اجازت دے ځکه چې د مسلمان د نفس، مال او عزت او پرده ساتلو په شریعت کښې ډیر

اهميت دے- د دې يو مثال ملاحظه کړئ چنانچه د عاشقان رسول مدني تحريک دعوت اسلامي د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه د (۳۱۲ صَفحو) کتاب" بهارِ شريعت" حِصَّه ۱۶ صَفحَه ۱۶۱ کښې دي:" چا په پټه باندې د بےحيائۍ څه کار اوکړو، د هغه نه تپوس اوکړے شو چې تا دا کار کړے دے؟ هغه انکار کولے شي ځکه چې داسې کار د خلقو په وړاندې بيانول دويمه ګناه ده- دغه شان د خپل مسلمان وورور په يو راز باندې خبر شو نو د هغې د بيانولو نه هم انکار کولے شي-" (ردمحتار، 705/9)

شرف حج کا دیدے چلے قافلہ پھر　　مرا کاش! سوئے حرم یاالٰہی
دکھادے مدینے کی گلیاں دکھادے　　دکھا دے نبی کا حرم یاالٰہی
(وسائل بخشش، ص109)

## خپل ځان ذلت ته مخامخ کول جائِز نه دي

د مسلمان د عزت ډير اهميت دے- په خپلو لاسو د خپل عزّت خرابولو هم په شريعت کښې مُمَانعت دے، لِهذا داسې مُلکي قوانينو باندې عمل کول شرعاً ضروري دي کوم چې د قرآن و سنّت مخالف نه وي او په هغې باندې د عمل نه کولو په وجه د ذلّت او معصيّت خطره وي- مثلاً د ډرائيونګ لائسنس نه بغير موټر سائيکل، ګاډے وغيره د چلولو اجازت نشته که چلوي ئې او ګاډے اونيولے شو نو د بےعزتۍ سره سره د دروغو، رشوت، او وعده خلافۍ قوي امکان موجود دے لهٰذا د ډيرو ګناهونو او جهنم ته بوتلونکو کارونو نه بچ کيدو د پاره ډرائيونګ لائسنس جوړ کړئ او د ګاډي چلولو په وخت کښې ئې د خپل ځان سره ساتئ- اعلٰي حضرت، امام اهلسنّت، مولانا امام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فتاوٰی رضويه جلد 21 صَفحَه 183 کښې ارشاد فرمائي: هسې بلاوجه شرعي بلکه د شرعي وجهې برخلاف په يوه ګناه باندې د اصرار کولو د پاره ئې خپل نفس سزا او ذلت ته پيش کړو دا هم بحُکمِ حديث حرام دي-

جلد 29 صَفحَه 93 ، 94 کښي فرمائي: حديث پاک کښي دي: کوم کس چي بغير د څه مجبورئ نه خپل ځان په خوشحالئ سره ذلت ته پيش کړي هغه زمونږ نه نه دے- (معجم اوسط، 147/1،حديث:471) بهر حال د خپل عزت حفاظت کول ضروري دي-

مجھے نارِ دوزخ سے ڈر لگ رہا ہے ہو مجھ ناتُواں پر کرم یاالٰہی
سدا کیلئے ہو جا راضی خدایا ہمیشہ ہو لطف و کرم یاالٰہی
(وسائلِ بخشش،ص109)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد
تُوبُوا اِلَی اللّٰہ! اَسْتَغْفِرُ اللّٰہ
صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د دعا د پاره د درخواست کولو طريقه

بعضې خلق چې د دعا د پاره چاته پرچئ يا مکتوب ليږي، نو په هغې کښې معاذالله! د خپلو ګنده حرکتُونو اِنکِشاف کوي بلکه د خپلې مور خور د حيا خبرې ليکلو نه ځان نه ساتي! مثلاً زما د مور يا خور يا انکور د پردي سړي سره ناجائزه تعلقات دي- حد خو دا دے چې اسلامي خويندې هم احتياط نه کوي، هغوئ ته د دې خبرې بالکل احساس نه وي چې زمونږ تحرير به پته نشته چې څوک څوک لولي، او لوَستُونکي ته به څنګه څنګه وَسوَسے پيدا کيږي- څوک ليکي: زما خاوند يا پلار کار نه کوي بس ټوله ورځ په کور کښې پروت وي او په کور کښې جګړے کوي، خوابښې يا اِيوور راباندې ظلم کوي، زما ورور جوارګر دے، زما خور د چا سره تښتيدلې ده، زما ورور د يوے جينئ په چکر کښې دے، زما ځوئ شراب څښي، زما لور فيشن کوي او بےپرده ګرځي وغيره- دعا کولو د پاره د دې تفصيلاتو بيانولو په ځائے مُبهَم (مُب- هَم- يعني کِنايه) الفاظو کښې خبره کول مناسب دي مثلاً که د چا ځوئ يا

ورور یا خاوند د شرابو یا جوارئ په بدئ کښې مبتلا وي نو د دې بدئ او د بدئ کوونکي ښودلو نه بغیر په دې الفاظو کښې دعا د پاره وئیلے شئ چې: "زما یو عزیز او نزدے ملګرے بعضې بدو عادتونو کښې اخته شوے دے د هغه د اصلاح د پاره دعا اوفرمائے" دغه شان که د چا خور یا لور اوتښتیده یا د یو هلک په چکر کښې اخته شوه نو په دې الفاظو د دعا د پاره درخواست کولے شئ چې: "زما یوه خپلوانه په یوه ناقابلِ بیان بدئ کښې ګرفتار شوي ده د هغې د پاره دعا اوفرمائے-" په دې الفاظو کښې د دعا د پاره وئیلو کښې به دا فائده وي چې ولے چې فردِ مُعَیَّن (یعنی معلوم کس به) نه وي لِهذا د غیبت کولو امکان بالکل ختم شو- دویمه خبره دا ده چې د مخصوصې بدئ او د حیا خلاف خبرو نه هم بچ شو- خو که چا د دعا د درخواست په نیت خپله یا د مخصوص کس خامې یا عیب د چا په وړاندې بیان کړل نو دا د ګناه نه ډک غیبت نه دے، د ګناه نه ډک غیبت به په هغه صورت کښې وي چې کله د یو مُعَیَّن هُم کس خامې صرف د بدئ په نیت بیان کړے شي-

## طبیب ته د عیبونو بیانولو طریقه

طبیب یا عامل ته د علاج حاصلولو په نیت عیبونه بیانَولو کښې څه حرج نِشته البتّه د خاص کس تذکره کولو نه بغیر که کار کیږي نو اُوئې کړئ مثلاً "زما څوئ شراب څښي" وئیلو په ځائے داسې اووائې" زما یو خپل کس شراب څښي" که نوم وغیره بیانول ضروري وي یا پخپله خپله خامې بیانولو نه بغیر کار نه کیږي نو احتیاط ضروري دے چې صرف هغه عامل یا طبیب ته بیان کړے شي چې بغیر د ضرورت نه بل څوک دغه خبرې وانَورِي یا خبر نه شي- غټ ډاکټران عموماً خپلې کمرے ته بیل مریض راغواړي او د هغه احوال اَوري خو پته نشته د دوئي اکثریت په دغه موقع باندې د مدد د پاره بےپرده زنانه ځان سره ساتي! یو څو ځله چې ما ته داسې موقع پیښه شوي ده نو د رازدارئ د خبرو باوجود د نظر د حفاظت د پاره مې درخواست کړے دے او زنانه مې د کمرے نه بهر وِیستلې ده - هر یو کس

ته د شريعت په حکم عمل کول پکار دي۔

## د روحاني علاج په بسته د رازدارئ طريقه

سوال: د دعوت اسلامي ”مجلس روحاني علاج“ له طرفه په ملک کښې دننه او د ملک نه بهر د روحاني علاج بيشميره بستے لګولے کيږي، غم وهلي خلق په قطار کښي، خپل مسائل بيانوي او فِیْ سَبِیْلِ الله علاج حاصلوِي، په دې کښي يقيناً د راز خبرې هم وي، هر يو کس له جُدا وخت ورکول زمونږ د وَس کار نه دے څه حل بيان کړئ.

جواب: د روحاني علاج په ذريعه د دواړو جهانو د سردار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د غمژن اُمَّت خدمت بيشکه ډير لوئےسعادت دے خو دا مدني کار او هر هر نيک عمل د ګناهونو نه پاک ساتل ضروري دي هيڅ کله داسې نه دي پکار چې د يو مُسْتَحَب کار د پاره د ګناهونو نه ډک حرام او جهنم ته بوتلونکے کار اوشي۔ چې نورو خلقو ته آواز اونه رسي د دې د پاره څه حکمتِ عملي اختيارَوَل ضروري دي مثلاً بستے ته مخامخ دِ دومره فاصله کښې څه شےکيښودلے شي د کوم ځائے پورې چې آواز نه ځي، د چا چې نمبر وي هغه دِ نزدے را اُووبَلَلےشي، د پريشانئ اوريدلو د پاره دِ هلته صرف يو کس وي کوم چې د خوفِ خدا والا وي او د مسلمانانو د رازونو ساتونکے وي، د شرعي اجازت نه بغير دِ هغه سره نزدے يو معاون هم نه وي۔ ورسره دِ د لاندېني مضمون يو بينر يا بورډ جوړ کړے شي او د بستے بالکل د پاسه دِ داسې اولګولے شي چې په قطار کښې موجود هر کس ئې په آسانئ سره لوستلے شي او ورسره دِ د دې مضمون وقتاً فوقتاً اعلان هم کوي۔ مضمون دا دے:

## په غوږونو کښې به ئې ويلي شوې اوسپنه اچولے شي

خلق د مجبورئ نه د علاج حاصلولو د پاره پټ رازونه هم وائي لِهذا په بسته باندې اوريدونکي خبرو نه دِ بل کس ځان ساتي، د نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

کوم کس چې د يو قوم خبرې اوريدو ته غوږ کيږدي حالانکه هغه دا خبره نه خوښوی يا دا خبره پټول غواړي نو د قيامت په ورځ به د هغه په غوږونو کښې ويلي شوي سِيکه اچولے کيږي- (بخاری،4/423،حدیث:7042)

حکيم الامت حضرت مفتي احمد يار خان رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ د ذِکر شوي حديث پاک لاندې فرمائي: يعني کوم کس چې د نورو پټې خبرې په پټه اوري د هغه په غوږونو کښې به په ورځ د قيامت تَوده [وِيلي کړے شوي] سِيکه اړولے کيږي- حديثِ پاک بالکل په ظاهره دے، په دې کښې د څه تاويل ضرورت نشته، واقعي هغه ته به قيامت کښې دا عذابورکولے کيږي ځکه چې دا هم د راز و نياز غل دے- (مراٰۃالمناجیح،6/203)

(د حديثِ پاک شرح په بينر يا بورډ باندې مه ليکئ ګنې مضمون به ډير لوئ شي، خو په هينډ بل وغيره کښې شاملولو کښې څه حرج نشته)

## د ډاکټرانو او عاملانو وغيره د پاره

سوال: د نورو خلقو په موجودګئ کښې ډاکټرانو، حکيمانو، عاملانو، سماجي کارکنانو او سماجي رهنماؤ ته هم ضرورتاً خپل راز وئيلے شي، په دې سلسله کښې څه مدني ګلونه وړاندې کړئ.

جواب: هر مسلمان له پکار دي چې بځپله هم د ګناهونو او د هغې د اسبابو نه ځان ساتي او د خپل طاقت مطابق ترينه نور هم بچ کوي لِـهذا دغه صاحبانو ته هم داسې حکمتِ عملي اختيارول پکار ده چې د يو کس عيب بل وانورِي دا حضرات هم که مناسب ګنړي نو خپل ځائے کښې دِ ذکر شوے بورډ يا بينر اولګوي او په هغې کښې دِ د لفظ " بَستے باندې" په ځائے د خپل ضرورت الفاظ مَثَلًا پير صاحب سره" "باباجي صاحب سره" "ډاکټر صاحب سره" " حکيم صاحب سره" وغيره ترکيب جوړ کړي-

غیبتوں سے بچوں، چغلیوں سے بچوں　　ہو نگاہِ کرم، تاجدارِ حرم
بد کلامی نہ ہو، یاوَہ گوئی نہ ہو　　بولوں میں کم سے کم، تاجدارِ حرم

# د غیبت دولس جائز صورتونه

(۱)دَ بَدمَذهَبه بده عقیده بیانَول (۲) د چا د بدئ نه چې د نُقصان رَسیدلو اندیښنه وي نو خلقو ته د ځان ساتلو د پاره په قدر د ضرورت د هغه بدي بیانول مثلاً چې کوم تاجر په دوکه د ملاوټ مال خرڅوي د هغه نه د مسلمانانو د بچ کولو د پاره د هغه د بیکاره مال نشاندهي کول- د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: آیا د فاجر د ذکر نه بچ کیږئ خلق به هغه کله پیژني! د فاجر ذکر په هغه څیز سره کوئ کوم چې په هغه کښې وي چې خلق د هغه نه ځان اوساتي. (سنن کبری ،354/10،حدیث:20914) (۳) مثلاً د کاروبار، شراکت داړئ یا د واده وغیره د پاره څوک مشوره اوغواړي نو د چا په باره کښې چې مشوره اوغواړي که د هغه څه داسې عیبُونه درته معلوم وي د کوم نه چې هغه ته نقصان رسیدے شي نو ضرورتاً صرف هغه عیبونه بیانول (٤) قاضي (یا پولیس) نه دانصاف غوښتلو د پاره د فریاد کولو په وخت کښې وئیل چې فلانکي غلا کړي ده، ظلم ئې کړے دے وغیره (٥) څوک چې اصلاح کولے شي صرف هغه ته د اصلاح په نیت شکایت کولے شي مثلاً د مرید پیر ته، د ځوئ پلار ته، د ښځې خاوند ته، د رِعایا بادشاه ته، د شاګرد استاد ته شکایت کیدلے شي (٦) فتویٰ طلب کولو د پاره نوم اخستلو سره بدي بیانولے شي خو غَوَرَه دا ده چې د مفتي نه هم اِشارةً یعني د زید بکر [په فرضي نومونو] سره معلومات اوکړي - (بہارِشریعت ، حصہ: 16،3/177-178 ملخصا)

# د پیژندګلو د پاره ضرورتاً ګونګا یا کُوڼ وئیل

(۷) د چا جسماني عیب مثلاً ړوند، پیړ [موټا] وغیره صرف د پیژندګلو د پاره وئیل خو چې هغه په دې علامت سره معروف (یعني مشهور) وي که بغیر د عیب ښکاره کولو نه هم پیژندلے شي نو غوره دا ده چې د نوم سره د عیب تذکره اونشي- مثلاً زید پیړ دے خو که د نوم اخستو سره یا د وَلدِیت وئیلو سره یا په څه بل علامت وئیلو سره ترکیب جوړیدے شي نو بیا د

موټا وئیلو نه ځان ساتئ- چنانچه ''رِیَاضُ الصَّالِحِیْن'' کښې دي: مثلاً یو کس د اَعرَج (ګوډ) اَصَمُ (کوڼ)، اَعْمٰی (ړوند)، یا اَحوَل (چپ سترګي) په لقب مشهور وي نو د هغه د معرِفت و شناخت (یعني پيژندګلو) د پاره د هغه په دې اوصافو او علاماتو سره ذکر کول جائز دي خو د تَنقِیص (یعني خامي بیانولو) په اراده د هغه په دې اوصافو سره ذکر کول جائز نه دي- که (د خامئ او عیب والا) لقب نه بغیر ئې پيژندګلو کیدے شي نو بیا غَوَره دا ده چې لقب ئې بیان نه کړے شي- (ریاض الصالحین لِلنَّوَوِی، ص404) د عاشقانِ رسول مدني تحریک، دعوت اسلامي مَکْتَبَۃُالْمَدِیْنه (د 312 صَفحاتو) کتاب ''بهارِ شریعت''حصّه 16 صَفحَه 178 کښې دي: بعضې وخت صرف د پيژندګلو د پاره چا ته ړوند یا یو سترګے یا لنډے یا لمبُو [یعني اُوګږد] وئیلے کیږي، دا په غیبت کښې داخل نه دي-

## څوک چې ښکاره بدي کوي د هغه غیبت

(۸) په ښکاره د خلقو نه مال په زور اخِستل، عَلَيَ الْاَعْلَان [په ښکاره] شراب څښل، ګیره خرئیل یا د یو موټي نه وړه کول وغیره وغیره علانیه ګناه کوونکے چا ته چې په دې ګناهونو کښې د خلقو نه حیا نه ورځي د هغوئې صرف د هغه خبرو تذکره کول (۹) د ظالم حاکم هغه ظلمونه بیانول هم جائز دي کوم چې بالکل ښکاره کوي، خو که ظالم کوم یو عمل په پټه کوي د هغې بیانول غیبت دے. د عاشقانِ رسول مدني تحریک دعوت اسلامي مَکْتَبَۃُالْمَدِیْنه (د 312 صَفحاتو) کتاب، ''بهارِ شریعت'' حصّه 16 صَفحَه 177 کښې دي: کوم کس چې علانیه بد کار کوي او د هغه پرې هیڅ پرواه نه وي چې خلق به څه وائي، د هغه دا بد عادت بیانول غیبت نه دے، خو د ده چې کومې نورې خبرې دي او هغه ښکاره نه دي د هغې بیانول غیبت کښې داخل دي- حدیث پاک کښې دي: چا چې د حیا څادر د خپل مخ نه لرې کړو، د هغه غیبت نشته- (بهارِشریعت، 534/3،حصہ:16) اے عاشقانِ رسول! حضرتِ علامه سیّد مُرتضٰی زَبیدی رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه فرمائي: یاد ساتئ! د دې نه (یعني د عَلَيَ الاعلان جُرم کوونکي د هغه جرم د ذکر کولو) نه چې صرف د

خلقو خیر خواهي مقصود وي، خو څوک چې د خپلې غُصَّے وښکلو یا د خپل نفس د انتقام اخستلو د پاره د فاسق مُلعِن مذموم کارونه بیان کړي هغه ګنهګار دے-

(اتحاف السادة للزبیدی، 332/9)

## (۱۰) د افسوس په توګه د چا بدي بیانول

چا که د خپل مسلمان وررور بدي د افسوس په توګه بیان کړه چې ماته انتهائي افسوس دے چې هغه داسې کار کوي دا غیبت نه دے، ځکه چې د چا بدي ئې بیان کړه که هغه ته د دې خبر اورسي هُم نو په داسې صورت کښې ئې هغه بد نه ګڼړي، بد ئې هله ګڼړي چې کله هغه ته پته اولګي چې د ویونکي مقصد بدي بیانول وو، خو دا ضروري ده چې د دې څیز اظهار هغه د حسرت او افسوس په وجه کړے وي ګني بیا به غیبت وي بلکه یو قسمه نِفاق او رِیا او خپله مَدَح سرائي (یعني په خپله خُله خپل صفت) کول دي، ځکه چې ده د مسلمان وررور بدي بیان کړه او ښکاره ئې دا کړه چې بدي بیانول مقصود نه دي نو دا نفاق شو او خلقو ته ئې دا ښکاره کړه چې دا کار زه د خپل ځان د پاره او خلقو د پاره بد ګڼړم نو دا رِیا ده او ولے چې غیبت ئې د غیبت په توګه اونکړو، لهٰذا خپل ځان ئې د صُلحا (یعني نیکو بندګانو) نه کیدل بیان کړو او دا تزکیۀ نفس [یعني خپل ځان پاک ګڼړل] او خود ستائي (په خپله خُله د ځان تعریف) کول شو - (بهارِشریعت ، 176/3 ، حصہ :16،درمختار،ردالمحتار، 673/9) د دې جُزیئے دا مدني ګل قابلِ غور دے چې بیانولو کښې د اظهارِ افسوس انداز داسې وي چې د چا غیبت اوکړے شي هغه ته که پته اولګي نو چې هغه دا اوګڼړي چې دا عاجزه زما د کوتاهئ په وجه غمژن شو، ځکه ئې صرف د افسوس په طور دا خبره کړې ده زما بدي بیانول ئې مقصود نه وو- ډیر په سوچ او خیال سره د ژبې د استعمال ضرورت دے، صرف په زور د افسوس کیفیت پیدا کول کافي نه دي- آه! د غیبت عذاب به څوک برداشت نه کړے شي!

# د افسوس په توګه غیبت کولو نه بچ کیدل غوره دي

حقیقت دا دے چې د غیبت د افسوس والا صورت جائز کیدلو باوجود د غیبت په ګناه کښې د"اخته کیدلو خطره ډیره ده- ځکه چې د عام کس د پاره "حقیقي افسوس" او "اصلِ غیبت" کښې فرق کول بےحده مشکل دي چنانچه حضرت علامه اسماعیل حقّي رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه فرمائي: بعضې مُتَکَلِّمِین (یعني د علمِ کلام ماهرین) فرمائي چې د یو داسې خیز ذکر کول په کوم چې د مخامخ سړي تخفِیف (یعني سپکا والے او ذلیله کیدل) کیږي دا به هغه وخت کښې غیبت وي کله چې ئې د (هغه عزت ته) د نقصان رسولو او بدئ بیانولو اراده وي او (آؤ) د دهٔ د هغه (عیب) د افسوس په توګه ذکر کولو ته به غیبت نه وئیلے کیږي- د دې لیکلو نه پس حضرت سیدنا اسماعیل حقّي رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه نور فرمائي چې (په دې باره کښې) امامسَمَرقَندي رَحۡمَةُاللّٰہِ عَلَیۡه په خپل "تفسیر" کښې فرمائي: زه وایم څه چې دې علمائے کرامو رَحِمَهُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی بیان کړي دي په دې کښې لویه خطره ده ځکه په دې کښې (یعني چې زه خو په طور د افسوس غیبت کووم، په دې کښې) د دې خبرې ګمان دے چې د خلقو داسې کول (یعني په خپل خیال کښې د افسوس د پاره غیبت کووم دا ګنړل به د بے احتیاطئ په صورت کښې) هغوئي هغه خبرې طرف ته بوځي کوم چې محض (د ګناه نه ډک) غیبت دے لهٰذا د دې بالکل پرېښودل (یعني د افسوس په طور هم غیبت نه کول) تقوٰي ته زیات نزدے او ډیر احتیاط باندې مشتمل دي. (تفسیر روح البیان،89/9)

(١١) د حدیثِ پاک په راویانو، د مقدمے په ګواهانو او په مصنِّفِینو باندې جَرَح (یعني د هغوئي عیبونه ښکاره کول)- (ردمحتار،675/9) (١٢) د مرتد او حربي کافر بدي بیانول (اوس په دنیا کښې ټول کافران حربیان دي)- دا بیان شوي ټول صورتونه په ښکاره غیبت دے او په حقیقت کښې د ګناهنو نه ډک غیبت نه دے او د دې عیبونو بیانول جائز دي بلکه بعضې صورتونو کښې واجب دي-

صُبح ہوتی ہے شام ہو تی ہے　　عُمر یوں ہی تمام ہوتی ہے
خوب انساں کو کرتی ہے رُسوا　　جب زباں بے لگام ہوتی ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

توبو الي لله! استغفرالله

## د کافر او مرتد د غیبت احکام

اے عاشقان اولیاء! د "ذِمّي کافر" غیبت کول ناجائز او د "حَربي کافر" او د مرتد غیبت کول جائز دي، نن صبا د دنیا ټول یهودیان، عیسائیان ، او هر کافر "حربي" دے- خو ښخوا دور کښې ولے چې د مسلمانانو غلبه وه هغه وخت کښې "ذِمّي کافران" هم وو- هغوئي ته تکلیف ورکول او د هغوئي غیبت کول ناجائزه وو- لکه څنګه چې د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "چا چې یو یهودي یا نصراني ته تکلیف ورکوونکی خبره اوکړه د هغه ځائے جهنم دے-" (الاحسان بترتیب صحیح ابن حبان ،حدیث:4860،193/7) ذِمي کافر هغه مخصوص کافر ته وائي کوم چې اسلامي حکومت ته د خپل ځان د حفاظت د پاره جِزیه (TAX) ورکوي- چنانچه "تفسیرنعیمي" کښې دي: جِزیه یعني هغه شرعي محصول (TAX) کوم چې اهلِ کتاب (یهود و نصارٰي) نه د هغوئي د نفس و مال د حفاظت په بدله کښې اخِستلے کیږي. (تفسیرنعیمی ،256/10 ملخصا)

دے غیبت سے تہمت سے نفرت خدایا　　کہ بے شک ہے ان میں ہلاکت خدایا
مری ذات سے دل دُکھے نہ کسی کا　　ملے مجھ سے سب کو مُسرت خدایا

("غیبت کی تباہ کاریاں" قسط په نوم د "چا چا ته عیب بیانوَلے شئ" ختم شو.

## دامیرِ اہلِ سنّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ 120 رسالے

(1) حُسینی دولہا(2) میں سدھرناچاہتاہوں(3) انمول ہیرے(4) برے خاتمے کے اسباب(5) غصے کا علاج(6) باحیا نوجوان(7) ظلم کاانجام (8) بڈھاپجاری (9) چار سنسنی خیز خواب(10) ٹی وی کی تباہ کاریاں(11) گانوں کے 35 کفریہ اشعار(12) خودکشی کا علاج (13) سیاہ فام غلام (14) کرامات فاروق اعظم(15) میٹھے بول(16) کرامات عثمان غنی(17)جنتی محل کا سودا(18) سگ مدینہ کہنا کیسا؟ (19)قبر کی پہلی رات (20)سمندری گنبد(21) آقا کامہینا(22) قبر والوں کی25حکایات (23) عاشق اکبر (24) خزانے کے انبار(25) مدینے کی مچھلی(26) اشکوں کی برسات(27) نہر کی صدائیں(28) بھیانک اونٹ(29) غفلت(30) خاموش شہزادہ(31) قوم لوط کی تباہ کاریاں(32) ابوجہل کی موت (33)نیک بننے کا نسخہ (34) وضواورسائنس(35) قیامت کا امتحان(36) قبر کا امتحان(37) جوشِ ایمانی(38) مردے کے صدمے(39) پراسرار خزانہ(40) مردے کی بے بسی (41) احترام مسلم (42) کربلا کا خونیں منظر(43) 101 مدنی پھول(44) پراسرار بھکاری (45) عفو و درگزر کی فضیلت (46) تلاوت کی فضیلت(47) خوفناک جادوگر(48) کفن چوروں کے انکشافات (49) کالے بچھو (50)تذکرۂ صدر الشریعہ(51) سیدی قطب مدینہ(52) ذِکر والی نعت خوانی(53) 163مدنی پھول (54) نماز عید کا طریقہ(55) کپڑے پاک کرنے کا طریقہ مع نجاستوں کا بیان(56) ابلق گھوڑے سوار (57) جنات کا بادشاہ(58) سانپ نما جن(59) کھانے کا اسلامی طریقہ (60) وسوسے اور ان کا علاج (61) امام حسین کی کرامات(62) تذکرۂ امام احمدرضا(63) بریلی سے مدینہ (64) صبحِ بہاراں (65)کفن کی واپسی(66) 40 روحانی علاج مع طبی علاج(67) غسل کا طریقہ (68) وزن کم کرنے کا طریقہ (69)فیضانِ جمعہ (70) ا ستنجا کا طریقہ (71) مسجدیں خوشبودار رکھئے (72) منّے کی لاش(73) پان گٹکا (74) اخبار کے بارے میں سوال

جواب(75) کرامات شیر خدا (76) 28کلمات کفر (77)نعت خواں اور نذرانہ (78) قسم کے بارے میں مدنی پھول(79) عقیقے کے بارے میں سوال جواب(80) بجلی استعمال کرنے کے مدنی پھول(81) شیطان کے بعض ہتھیار(82) ضیائے درود وسلام(83) فاتحہ اور ایصال ثواب کا طریقہ(84) مدنی وصیت نامہ(85) حلال طریقے سے کمانے کے 50 مدنی پھول(86) نور والا چہرہ(چھوٹا) (87) فیضانِ اذان(88) قضانمازوں کا طریقہ (89)نماز جنازہ کا طریقہ(90) زخمی سانپ (91) فرعون کا خواب (چھوٹا)(92) بیٹا ہو تو ایسا (چھوٹا) (93) وضو کا طریقہ(94) زندہ بیٹی کنویں میں پھینک دی (95) مچھلی کے عجائبات (96) ہاتھوں ہاتھ پھوپھی سے صلح کرلی (97) میتھی کے 50مدنی پھول(98) ثواب بڑھانے کے نسخے (99) چڑیا اور اندھا سانپ(100) بسنت میلا(101) کباب سموسے (102) بیمار عابد(103) جھوٹا چور (چھوٹا) (104) مینڈک سوار بچھو(105) دودھ پیتا مدنی منا (چھوٹا)(106) گرمی سے حفاظت کے مدنی پھول(107) تذکرۂ مجدد الف ثانی(108) مسواک شریف کے فضائل (109) بادشاہوں کی ہڈیاں(110) سیلفی کے 30 عبرت ناک واقعات(111) مسافر کی نماز (112) امام حسن کی 30حکایات (113) ویران محل (114) پل صراط کی دہشت (115)دعوتوں کے بارے میں سوال جواب(116) ہر صحابی نبی جنتی جنتی(117) سنتیں اور آداب (118) وسائل فردوس(119) فیضان اہل بیت(120) 25 حکایات درود و سلام-

(اپ ڈیٹ : 5 اگست 2021)

## دامیرِ اہلِ سنّت دامت بَرَکَاتُہمُ العالیہ۱۸کتابونه

(1) فیضان سنت (جلداول) (2) غیبت کی تباہ کاریاں(3) کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب (4) پردے کے بارے میں سوال جواب (5) مدنی پنج سورہ (6) اسلامی بہنوں کی نماز (7) گھریلو علاج (8) رفیق الحرمین (9) رفیق المعتمرین (10) بیانات عطاریہ (حصہ2) (11)

بيانات عطاريه (حصہ3) (12) نماز کے احکام (13) نیکی کی دعوت (حصہ اول) (14) عاشقانِ رسول کی 130 حکایات (15) چندے کے بارے میں سوال جواب (16) وسائل بخشش(مرمم) (17) فیضانِ رمضان (مرمم) (18)فیضانِ نماز. (اپ ڈیٹ:25اکتوبر2019ء)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نیک او لمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښار کښې کېدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنّتونو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره ټوله شپه تيروئ ❁ د سُنّتونو د تربيّت د پاره **مَدَني قافلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِينه**" په ذريعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.**" اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "**مَدَني قافلو**" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ



فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com